۱۵ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

# په افغانستان کې ښاري حکومتولۍ: د ښارونو د پراختیايي پروګرام ارزونه

دتلف کمیر او ذبیح الله عیسی

غبرګولي ۱۳۹۲

## سریزه

افغانستان په لویه کچه د « غیر رسمي» مېشت کېدلو حالت لري، چې په هغو کې د ښاري جوړښت بنسټیزې برخې لکه د اوبو رسول ، د فضله اوبو او موادو تنظیم ، ښوونځي او د ځوانانو لپاره د لوبو لوبغالي او همدا ډول د نارینه وو او ښځو لپاره د کار وړ ځایونه نشته او په دې توګه د ښارونو په پراختیا باندې هومره کنټرول هم شتون نه لري. دا ټولې آسانتیا وي د « ښه ښار» په مفهوم کې شاملې دي او داسې معلومېږي چې نوموړې ټولې اسانتیاوې باید د نړیوالو او ملي ادارو او اړوندو اوسیدونکو او د ښار د اداري جوړښتونو لکه ښاروالۍ ، ناحیې ، ګذر او CDC له خوا برابر شي.

افغان او جرمن شریکانو په مشترک ډول د نورو شپږو موضوعاتو په شمول، د افغانستان حکومتولۍ غونډه کې ښاري حکومتولۍ انتخاب کړه، چې په دې سکتور کې د مهمو ننګونو په اړه بحث او په وروستیو پرمختګونو ښه پوهاوي رامنځ ته کړي.

د دې پالیسۍ یادښت موخه دا ده چې د اوسني ښاري پراختیا پروګرام د ارزونې مهمو موندنو لنډیز، او د ښه پلي کیدو لپاره د سپارښتنو وړاندیز چې دپالیسي یادښت په راتلونکو لیکونو کې راڅرګندیږي: په افغانستان کې ښاري حکومتولۍ: د راڅرګندیدونکو څلور- ښارونو د ملاتړ پروګرام پلی کیدو او بشپړول.

د پالیسۍ دا یادښت په ځانګړي ډول څلورو عمده ښارونو لکه هرات ، کندهار ، مزار شریف او جلال آباد ته مراجعه کوي. نوموړي ۱+۴ ښارونه د ټول هیواد د ښاري زیاتیدونکي نفوس د ۲۰ سلنې برخې څخه ډیرو لپاره ټاټوبی جوړوي. که چیرې پالیسي او د هغې پلیتابه اغېزمنه وي، نو ستونزې د لید وړ کمښت مومي او د اکثرو افغانانو ژوند ښه کوي. دا په افغانستان کې ښې ښاري حکومتولۍ ته په دقیقه توګه د رسیدو لپاره لارښود ده او په دې توګه لویه پانګونه – لومړی په دغو څلورو لویو ښارونو او وروسته بیا د ټول هیواد په کوچنیو ښارونو کې را منځ ته شي.

۱+۴ لویو ښارونو سیمه (۲۰۱۲)

| ښاري سیمه | د نفوس شمیره ( په ملیون) |
|---|---|
| ۱. کابل | ۴،۸ - ۵،۵ |
| ۲. جلال آباد | ۱،۵ – ۱،۷ |
| ۳. کندهار | ۱،۲ – ۱،۳ |
| ۴. هرات | ۱،۵ – ۱،۷ |
| ۵. مزارشریف | ۱،۲ - ۱،۷ |
| ټول (لړ) | ۱۰،۲ – ۱۱،۸ |

منبع: د افغان ښارونو نقشه، ۲۰۱۲

## څېړندود

د څېړنې دتر سره کولو لپاره له مختلطو میتوډونو نه ګټه پورته شوي ده، لکه د ښاری مدیریت په موضوعاتو کې له کوچنیو ټولنیزو واحدونو د ښاروالۍ تر کچې پورې میزي څېړنه او د دې تقابل له نورو ادارو سره. د پرانیستې په یوه غونډه کې په طرحه مشوره او د خبرو اترو په یوه غونډه کی لومړنۍ موندنې د مهمو ګډونو الو سره شریکې شوې. د مهمو کلیدي کسانو نه چې په دې څلورو ښارونو کې ښاري مدیریت ته لاس رسي درلود ، د کیفي میتوډ په واسطه معلومات راټول شوې دي.


د ښاري حکومتولۍ په تړاو پالیسي باید د افغانستان په شرایطو کې دغو دوو پوښتنو ته ځواب ورکړي، (۱) « ښه ښار څه ته وايي؟» او (۲)« څنګه کولای شو د افغانستان ښارونه، په ښو ښارونو واړوو»؟ د افغانستان په ډول چټک ښاري کیدونکي هیوادونه چې له فزیکی، ټولنیز او اقتصادي جوړښتونو له پلوه کرهنیز خصوصیت لری ، د داسې اساسي پوښتنو لپاره تیار جوړ شوی ځوابونه نه لري. نو په دې توګه د ښاري کېدلو جریان او د خلکو له خوا د داسې جریان منل ډیرو کلونو ته اړتیا لري او په دې لړ کې خلک د پایښت لرونکې سولې تر څنګ لارښوونې او د ودې وړ کاری طریقو ته اړ دي.

په دې اړه باید دوو لار ښوونکو ملي پالیسیو او ستراتیژیو ته اشاره وشي، د ښاري ملي لومړیتوب پروګرام (U-NPP) – د پایلو چوکاټ ، ۲۰۱۲ ، او د «ولسی تړون» ، ۲۰۱۲ ( چې د کلیو او ښاری سیمو لپاره لیکل شوي وو ). خو یا دې دوه ستراتیژۍ په ګډه سره د ملي پالیسۍ بشپړ چوکاټ نه برابروي.

## د موندنو لنډیز

### د ملي پالیسۍ عمده چوکاټ

په نړدې راتلونکې موده کې باید د یوې بشپړې ښاري ملي پالیسۍ اړتیا پر ځای شي چې د «ولسی تړون» او په راتلونکو لس یا ډېرو کلونو کې د هغه د عملي کولو او پلی کولو سره یو ځای وي. د څلورو لویو ښارونو (او کابل) د اداري او پانګونې کار اوس د حکومت او د هغه د نړیوالو شریکانو له خوا د جوړېدلو په حال کې دی. په دې توګه د پروګرام پلی کول لا تر اوسه د چمتو کېدلو په نغښتې پړاو کې ده.




منبع: د ملګرو ملتونو د هبیتات «یو- مخیزه» ۲۰۱۲

### له تمې سره سم د ښاري اداري سمبالښت

د پروګرام پلی کېدو په دې څلورو ښارونو کې یوه پېچلې او خوځنده طبېعت لري. په عمده توګه دا تنوع په دغه څلورو ښارونو کې د بېلابېلو ښو له امله ده. د ښاروالۍ د چارواکو ټیټ ظرفیت د دې پروګرام د پلی کولو د غوښتنو پر تله د مدیریت د رول تر سره کولو لپاره یو ستره ننګونه ده. په ځانګړې توګه، د ښاروالۍ د چارواکو د مدیریتي ظرفیتونو له پلوه مرکه کړی شوي کسان د دې پروګرام د قوي لارښود له اړتیا خبر وو.

### محدود اداري جوړښت

اصل محدودیت د ګذرونو او ناحیو معیار (د نفوس په اندازه سره) په پام کې نیولو سره محدود دی، دا ځکه چې په بنسټیزه کچه تر ټولو ښه پلان او پلی کېدل دهغو شبکو او لویو پلانونو دانزوا په حالت کې چې دوی سره ښنلوې ناشونې ده.

د ښاري ملاتړ پروګرام کې درې پوړی د پلان جوړونې او مدیریت فعالیتونه را یو ځای شوي دي.

۱. په بنسټیزه یا ښکته نه پورته، د «ولسی تړون» د هڅو لاندې د شوراګانو او د ګذررونو لپاره د پراخو مالي مرستو ستر بندیز

۲. د ناحیه او د ښاروالۍ په سطحه په نظر کې نیول شوي ستراتیژیک کاري پروګرامونه هغه چې ډېر زر به د ښاري ماستر پلان ځای ونیسي، او

۳. په ملي او سیمه ایزه سکتور د لومړیتوب په پروګرام کې د پوهنې، روغتیا، او د فاضله اوبو مدیریت، او ګڼ شمېر نور

### د «ولسی تړون» په ګذر کې سمونې شرط ګڼې

په دې څلورو ښارونو کې د ګذر موجوده وېش ته یوې چټکې کتنې دا په ډاګه کړه، چې یوازې په کندهار کې د ګذر/سیمه د نفوس په اندازه موجودو ارزښتونو ته نږدې والي لري. که څه هم، په دریو نورو ښارونو کې، د ګذرونو اصلاحات به د شمېر شدید کمښت سبب شي. د ګذر د بیا جوړښت لړۍ به د ښاري ملاتړ پروګرام نه مخکې په دې څلورو ښارونو کې د یو شرط په حیث د وړیا مرستو د توزیع لپاره ترسره شي.

په څلورو ښارونو کې لکه چې لاندې جدول یې څرګندوي، په ګذر کې د وړاندیز شوي سمون پایله د پرتله کېدو وړ ګذرونه دي (او اداري کیفیت) د لید وړ بدلونونه را منځ ته کړي. په بله معنی د پروګرام د پلي کولو اړینه موده به د شته کوچنیو ګذرونو د معیاري کولو لپاره وخت ته اړتیا ولري. دا موضوع به د دې احتمال را مینځ ته کړي چې د لید وړ موده به د جوړښتیزې پانګونې د واقعي تخصیص لپاره، چې خلک (وګړي) یې په لېوالتیا سره تمه لري، ځانګړې شي. لکه چې لاندې جدول کې لیدل کېږي په څلورو ښارونو کې یوازې کندهار کولای شي د ګذر جوړښتی پروګرام پرته له بیاجوړونې څخه ومنې.

### په څلورو ښارونو کې د ګذر د شمېر پلان شوي لیږوالی

| ښار | د ګذر زوړ(اوسنی) جوړښت | نوی ګذر(ښنه شوی سمون) |
|---|---|---|
| جلال آباد | ۲۳۲ | ۹۷ |
| کندهار | ۷۸ | بیاکتنه، خو نور عمده بدلون ته اړتیا نشته |
| هرات | ۳۳۱ | ۱۱۲ |
| مزارشریف | ۴۳۲ | ۷۲ |

منبع: د AREU موضوعي لیکنه د ۲۰۱۷ کال د مې میاشت


د ګذر له کچې لوړ، ناحیې هم د لویوالي او ظرفیت له پلوه خورا ډېر توپیر لري. په هر حال، دا موضوع کېدای شي په وروستي پړاو کې د پروګرام په تطبیق کې، زیاته شي.

## سپارښتنې

د پالیسي په دغو یادښتونو کې «تخنیکي ځانګړیتوب» شامل دي چې امکان لري د اساسي څېړنې لپاره د صلاحیت د حدودو له خوا ډېر تاکید شوي وي (په ګذر کې سمونه، او په ټولنه کې بنسټیز آسانتیا وې). لومړی خبره داده چې د ښاري پلان جوړونې او حکومتولۍ لپاره د ضرورت وړ فورمه ومنل شي- دا هغه وړاندیزونه دي چې په «ولسي تړون» کې یې تشریح شتون نه درلود او وروسته نوري سپارښتنې دي، کومې چې موجوده تشې په نښه او موندنو ته ګوته کوي.

### د همغږۍ د درې کړنو له لارې د ښاروالۍ په کچه پلان جوړول او مدیریت

لکه چې په لاندې چارټ یا ګراف کې ښودل شوي، د څلورو ښارونو پروګرام (او وروسته د نورو ښارونو لپاره) باید هروسرو د ښاري اداري د پراخ روش له لارې پلي شي چې په هغې کې د پلان جوړونې او کړنو له درې پوړونو څخه ګټه اخیستل شوي وي. ښاروالۍ (چې په منځنۍ برخه کې په بیضوي ډوله ټکو په واسطه ښودل شوی ده) دغو ټکو ته اړتیا لري (۱) نوښتي ستراتیژیک پلانونه (د ښار لپاره د ستراتیژیکو کړنو پروګرام او په ناحیو کې د ستراتیژیکو کړنو پروګرام په توګه د SMAP او SNAP مخففونو له لارې پېژندل شوي دي) همدا ډول (۲) «د ټولو خلکو» ګډې «پروژې» (په هغه ډول چې د «ولسي تړون» کې ښوولي شوي دي)، (۳) هغه سکتوري پلانونه او ستراتیژۍ چې د ملي وزارتونو له خوا عملي کېږي.




### د ښار په کچه آسانتیا وې- د دریځ لپاره د مناسب چوکاټ جوړول

د «ولسي تړون» له مخې د بنسټیزو اسانتیاوو د بحث تر څنګ وړاندیز کېږي چې د دوه عمده ټکو په توګه په یوه جوړه شوي عمومي کتنه هم ور شامله شي چې په هغې کې (۱) د ښار اسانتیا وې د ښار د ډول او اندازې د «لوی انځور» په توګه ښودل شوي وي، او (۲) د ګاونډیتوب د اسانتیا وو پراخ لړلیک چې په هغه کې د اساسي ملاتړ پروګرام ونډه واخلي (د «ولسي تړون» له لارې هڅول شوي وي) (د ځای د نشتوالي له کبله، دا موضوعات د پالیسي په یادښت کې څرګنده شوي نه دي)

### د لړلیک پر بنسټ د محلي جوړښت سمونونه (لکه څنګه چې په «ولسي تړون» کې د شرط په توګه منل شوي دي)

په محلي کچه د بنسټیز جوړښت اصلاح کول، عامه ګټورتوب او د ټولنې اسانتیا وې- د نړیوال معیار پر بنسټ، د ښکته نه پورته په پلان جوړولو او پرېکړه کولو کې د سیمه ایزو خلکو د فعال ګډون یو معیاري دریځ ګڼل کېږي چې د څو اړخیزو منابعو له لارې د ښاري اسانتیاوو تمویل او مدیریت ترسره کړي. د بریالیتوب دا ډول ثابت شوي جوړښتونه باید د افغانستان د سیمیزو شرایطو سره سم په کار واچول شي. په وړاندیز شوي «لړلیک» کې هڅول شوي جوړښتیز پروګرام په لاندې چارټ کې خلاصه شوی دی.

هغه لیست یا لړ لیک چې په اساسي توګه دلته د «ولسي تړون» کې وړاندې شوي دي دوه عمده بدلونونه یې سره یوځای کړي دي- (۱) د کورنیو د شمېر معلومول او په ګذر کې سمونه د ټولنې د اسانتیاوو د لړلیک د پلي کولو پر ځای د لازم شرط په توګه پېژندل، او (۲) د شپږو معیارونو له اسانتیاوو سره د «ټوکو د کارت» یوځای کول چې له هغو څخه د ګذر شورا کولای شي هغه کارتونه خوښ کړي چې د تطبیق غوښتنه یې لري: د هغو د خوښې وړ «د ټوکو پروژه» کېدای شي د لیست شوو معیاري اسانتیاوو پرځای وټاکل شي.

### د ګذر په کچه د سمونو «لړلیک»

| | |
|---|---|
| مخکې له مخکې شرایط: له لاندې «لړلیک» څخه د پروژو د ټاکلو څخه مخکې، د هر ښار لپاره دوه ګامونه ضروري ګڼل کېږي | ۱.دکورنیو د شمېر لپاره نوي معیارونه<br>۲.دګذر د وګړو اندازه او پولې |
| د هر ګذر لپاره په لړلیک کې د ښار له خوا د اووه (۷) ډولونو پروژو غوره کول | |
| ۱ | د لارو(سړکونو) پراختیا، د فاضلاب او ونو کښنولو په شمول |
| ۲ | د څښاک د اوبو برابرول |
| ۳ | د جامدو فضله موادو مدیریت |
| ۴ | پارک/د لوبو سیمه/دلوبو ډګر |
| ۵ | د رڼا او د برېښنا زیرمه |
| ۶ | د ښځو له معیشت لپاره پروژې |
| ۷ د «ټوکو کارت» | د ښار د خپلې خوښې ځانګړې وړاندیز شوي پروژه (تفصیل به وروسته وړاندې شي) |

د «ولسي تړون» څخه لنډیز او بدلون، ۲۰۱۲.

### داوږدې مودې په ظرفیت پانګه اچونه

د ښار په فزیکي او ټولنیز-اقتصادي جوړښتونو کې نواقصو او عیبونو ته په کتنې سره، د ښاري مدیریت د اوږد مهال وړوالي او د روښانه موخو ملاتړ ته اړتیا لري(چې د پروګرام په سند کې توضیح شوي نه دي). دا ستونزه د کړنو متمرکز پروګرام ته اړتیا لري چې په هغه کې دا لاندی برخې شاملې دي:

- د ځلورو ښارونو په یوې ناحیې کې، یا په یوه وخت کې په دوو یا ځلورو ښارونو کې یو آزمایښتي پروګرام جوړ کړي؛ د اهمیت وړ ده چې دا ډول آزمایښتي پروګرام باید په ځیرکۍ او احتیاط سره پرته له هر ډول بیړې چې کېدای شي د پاتي ښار له خوا «د خپلو» پروګرامونو د جوړولو له بې صبرۍ څخه سرچینه واخلي، پیل شي.
- دا ډول ازمایښتي کار یوازې په هغو سیمو کې پیل کړي، چیرې چې مخکې له مخکې شرایط برابر شوي وي، او په ګذر کې د پولو تشخیص او پېژندل ترسره شوي وي. دآزمایښتي کار ارزونه په نورو ګذرونو کې د محلي پروژو له تطبیق څخه پخوا باید په هوښیارتیا سره، ترسره شي.
- هڅه وکړي ترڅو له هر اړونده روزنیز پروګرام څخه فارغان او زده کوونکي، د بېلګې په توګه د کابل د پولی تخنیک له پوهنتون څخه د ماستر ی د کورس زده کوونکي په دې کار کې ښکېل کړي.
- د محلي ښوونکو له منځ څخه ترټولو ښه اجرا کوونکي وټاکئ او په راتلونکو کورسونو کې د هغوی د ښکېلتیا لپاره زمینه برابره کړې. له نورو ښارونو څخه کارکوونکي غوره کړي ترڅو په ځلورو لویو ښارونو کې پروګرامونه وګوري. د ښارونو راتلونکی نسل به، چېرته د ملاتړ پروګرامونه عملي کېږي، له تجربو څخه په زیاته اندازه ګټه پورته کړي.

تمه کېږي چې د کړنې په پروګرام کې به ځلور یا پنځه ځانګړي مهارتونه په ټولنیز، اقتصادي او فزیکی ساحو کې د ښاري سمونو په لړ کې شتون ولري، لکه د محاسبې او تهیې طرزالعملونه، د اوبو/فاضله اوبو او چاپیریال برخې: د ښځو د پوهې او زده کړې د آسانتیا وو بشپړول: په ګاونډی سیمو کې د لومړنیو ښوونځیو او لوبغالو او داسې نورو اسانتیاوو برابرول.

داسې معلومېږي چې د ډېر لوی او نغښتي بلیون ډالري پروګرام چې د «ولسی تړون» له خوا په نظر کې نیول شوی دي، لا تراوسه د لید وړ وخت او د چمتو کېدلو هڅو ته اړتیا لري، د پروګرام نه بریالیتوب چې د چمتووالي په کار کې د بې پروایي له امله را منځ ته کېږي، ډېر ستر خطر ګڼل کېدای شي.

دغه پالیسي یادښت ، په دې موخه ترتیب شوي چې د افغانستان د حوکمتولۍ غونډې سره مرسته وکړي. د افغانستان د حکومتولۍ غونډه، د افغان او جرمن شریکانو لخوا رامنځته شوي ده چې په حکومتولۍ پورې اړوندو موضوعاتو او پالیسیو باندې، چې په لوړه کچه بې د افغانستان سره تړاو مشخص شوی دی، د خبرو او بحثونو لپاره یو پلاټفورم پرانیزي.

دا دوه کلن نوښت، څېړونکي او د حوکمتولۍ تجربه لرونکي او تصمیم نیونکي خلک د بحث لپاره سره راټولوي چې د حکومتولۍ په داسې میکانیزمونو کار وکړي چې د دولت جوړوني لپاره لازښود وي او همدارنګه په افغانستان کې د حکومتولۍ په اړه عامه پوهاوي بهتر کړي.

په دې برخه کې، دافغانستان دڅېړنې ا وارزونې اداره، لکه یو کنسورسیوم او شریک پلې کونکی ، د افغانستان د حکومتولۍ غونډی په مټ یو سلسله څېړنیزې مقالې خپرې کړي چې په افغانستان کې دحکومتولۍ په اړه موضوعات پکې ځیړل شوي دي.


| | |
|---|---|
| د خپروني کوډ | ۱۷۱۰P |
| ژباړه | کاظم ملوان |


## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی. د AREU موخه دا ده چې د لوړ کیفیت اړوندو څېړنو او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرولو، او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ملاتړ له لارې پر پالیسۍ او عمل خپل اغېز وساتي او په دې اړه پوهاوی لوړ کړي. د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره، AREU د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د AREU له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي، او AREU شننو، فکرکولو او بحثونو ته لاره هواره کړي.

د AREU بنسټ په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د مرستندویه ټولنو له خوا کېښودل شو چې د مرستندویه ادارو، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو غیر حکومتي ادارو له استازو جوړ د مشرانو یو بورډ لري.